په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندونه پلاوی، د بشري حقونو څانګه

# افغانستان
# په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د نیمایې کال راپور، ۲۰۰۹



**جولای، ۲۰۰۹**
**یوناما، د بشري حقونو څانګه**

**د افغانستان نقشه**




Source: UN Cartographic Centre, NY.

# فهرست

د مطالبو فهرست

پېژندنه

عمومي تمایلات: جنوری- جون ۲۰۰۹
د حکومت ضد عناصرو له خوا د IED او ځانمرګي بریدونه
د حکومت پلوه ځواکونو له خوا هوایي بریدونه

۱. ضمیمه

د یوناما د بشري حقونو د څانګي له خوا د ملکي کسانو د تلفاتو په باب د معلوماتو د راغونډولو او تحلیل کولو په اړه د میتودولوژي لنډیز

قاموس (ډیکشنری)

## پیژندنه

۱. په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه دغه لنډ اخبار چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا (یوناما د بشري حقونو څانګه) تیار شوی د ۲۰۰۹ کال له جنوري څخه د جون تر دیرشمې نېټې پورې موده رانغاړي. لنډ اخبار د اندیښنو په دوو مهمو ساحو باندې ټینګار کوي، یعنې چاودیدونکی الی (IED) او ځانمرګي بریدونه چې د حکومت ضد عناصرو او هوایي بریدونه چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا ترسره کیږي. دغه دوه تاکتیکونه په افغانستان کې په روانه جګړه کې تر ټولو زیات د ملکي کسانو د تلفاتو لامل ګرځي.

۲. د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) لمبر پریکړه لیک سره سم د یوناما د بشري حقونو څانګه یو لوړ فعالیتونه کوي ترڅو په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو ساتنه زیاته شي. د مثال په ډول، د یوناما د بشري حقونو څانګه په خپلواک او بې طرفه ډول د هغو پیښو څارنه کوي چې ملکي کسانو ته په کې مرګ ژوبله اووښتې وي او همدارنګه ملکي بنسټیز جوړښتونو ته تاوان رسیدلی وي او یا تخریب شوی وي او داسې دفاعي فعالیتونه کوي چې هدف یې په ملکي کسانو باندې د وسله واله جګړې د اغیزو کمول وي. په لومړۍ ضمیمه کې هغه میتودولوژي په لنډ ډول بیانه شوې ده چې د یوناما د بشري حقونو افسران یې د معلوماتو راغونډولو، تحلیلولو او هغو پیښو په باب په راپورونو کې پکار وي چې ملکي کسان په کې وژل شوی او یا په ملکي کسانو باندې د وسله واله جګړې اغیزې ښیې.

### عمومي تمایلات: جنوري- جون ۲۰۰۹

۳. وسله واله جګړې په افغانستان کې خاصتا له ۲۰۰۵ څخه وروسته ډېر زور واخیست ځکه چې د حکومت ضد عناصرو حملې او د حکومت پلوه ځواکونو عملیات د هیواد نورو ډېرو ساحو ته وغځېدل. د شخړو په زیاتیدو سره چې په ۲۰۰۷، ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کې یې نور هم زور واخیست اوس د افغانستان دریمه برخه په مستقیم ډول د شورشیانو تر حملو لاندې راغلې ده چې د دغو حملو شدت او زیاتوالی په ټولو ځایونو کې یوشانته نه دی. وسله واله جګړه په خاص ډول په جنوبی، جنوب ختیځ، ختیځ، مرکزی او لویدیځو برخو کې روانه ده. دغه راز جګړه هغو سیمو ته هم غځېدلې ده چې له دې پخوا په نسبي ډول کراري سیمې وې لکه شمال او شمال ختیځ برخې.

۴. د شخړې په پراخیدو او زیاتیدو سره، د ملکي کسانو تلفات هم زیاتیږي لکه څنګه چې د یوناما د بشري حقونو څانګې له ۲۰۰۷ راهیسې په خپلو راپورونو کې څرګندوي. د ۲۰۰۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما د ملکي تلفاتو ۱۰۱۳ پیښې ثبتې کړې دي، چې د ۲۰۰۸ کال د همدې مودې له ۸۱۸ او په ۲۰۰۷ کې د دغې مودې له ۶۸۴ (دا لاندې ۱ لمبر پراګراف وګورئ) پیښو سره د مقایسې لپاره دي. دغه شمیر د ۲۰۰۸ کال د همدې مودې سره په پرتله کې د ۲۰۰۹ کال په شپږو لومړیو میاشتو کې په سلو کې ۲۴ زیاتوالی په ډاګه کوي. حکومت ضد عناصر او حکومت پلوه ځواکونه دواړه د ملکي تلفاتو د زیاتوالی مسوولین دي. د یوناما د بشري حقونو د څانګې راپورونه ښیې چې زیات شمیر ملکي کسان د حکومت ضد عناصرو له خوا وژل شوی دي او کم شمیر یې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا. د ۲۰۰۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو په سلو کې ۵۹ د حکومت ضد عناصرو او په سلو کې ۳۰,۵ یې د حکومت پلوه عناصرو له خوا او وښتې دي. دغه شمیر له ۲۰۰۷ کال راهیسې یو ښکاره بدلون څرګندوي چې حکومت پلوه ځواکونه د ملکي تلفاتو په ۴۱ سلنې او حکومت ضد عناصر د ۴۶ سلنې د تلفاتو مسوولین وو.

۵. د حکومت پلوه ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کې له ۲۰۰۷ څخه را پدېخوا زیات ملکی کسان وژل شوې دي. که څه هم داسې زیاتې هڅې شوې چې د تلفاتو شمیر کم شي او په نتیجه کې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د ددې تلفاتو په شمیر کې کمې راغلې دی خو د ملکي کسانو د تلفاتو په شمیر کې زیاتوالی ادامه لري.

۶. د افغانستان حکومت او د هغه متحدین د شورشیانو حملو ته د ځواب ویلو او د هغو دماتولو په ترڅ کې په هغو ساحو کې ډېر عملیات کوي چې ملکي خلک په کې اوسي. د دغه عواملو په نتیجه کې د ملکي کسانو په مرګ ژوبله او د جوړښتونو په تخریب کې زیاتوالی راغلی چې په دې کې کورونه او هغه جایدادونه شامليږي چې د ملکي کسانو د ژوند د بقا او معیشت لپاره ضروري وي.

۷. د یوناما د بشري حقونو څانګه ددې یادونه کوي چې په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د شمیر کمول د حکومت پلوه ځواکونو لپاره یو لومړیتوب دی. ددې هڅو د یوې برخې په څیر ایساف او په افغانستان کې امریکایي ځواکونو خپل تاکتیکونه بدل کړی او په هغو یې بیا کتنه کړې ده. په دې کې د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر او ډسمبر کې د تاکتیکونو د لارښوونو بله

مسوده هم شامليږي چې د ۲۰۰۹ کال په جولای کې بيا تر غور لاندې راغله. په دې برسيره په ايساف کې د ننه د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر کې د ملکي تلفاتو د تعقيب ځانګه جوړه شوه او په افغانستان کې امريکايي پوځونو هم همدغه ډول يوه ځانګه تاسيس کړه. دغه راز د قوماندې ورکولو په جوړښت کې هم بدلون راغلي او ددې بدلون په نتيجه کې اوس ايساف او امريکايي ځواکونه دواړه د يوې واحدې قوماندې لاندې راغلل چې د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر کې د جنرال مک کيرنان په وجود کې ايجاد شوه. د ۲۰۰۹ کال په مى کې د ايساف او امريکايي ځواکونو په افغانستان کې قوماندان بدل شو او د جنرال مک کيرنان په ځای جنرال مک کريستال مقرر شو.

۸. که څه هم نړيوال نظامی ځواکونو هڅې کړې دي چې داسې پاليسي او تګلارې پلې کړي چې په ملکي کسانو باندې يې اغيزې کمې وي، خو د دې سره سره هم هوايي بريدونه د ملکي کسانو په منځ کې د زيات شمير مرګ ژوبلې لامل ګرځي چې د ۲۰۰۹ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې رامنځ ته شوې او نسبت يې حکومت پلوه ځواکونو ته کيږي. يوناما د ۲۰۰۹ کال له پيل راهيسې ۴۰ هوايي بريدونه ثبت کړی دي چې ۲۰۰ ملکي کسانو په کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. دغه راز د تلاشي او نيولو عمليات (د شپې د حملو په ګډون) هم د انديښنې وړ خبره ده او داسې راپوروڼه شته چې له مخې يې د افغان او نړيوالو نظامي ځواکونو په ګډو عملياتو کې د حد څخه زياته قوه استعمال شوې چې په نتيجه کې يې ملکي کسان وژل شوي دي. دغه راز د "قوی د ساتنې" په پيښو کې هم کمی راغلی دی. په دې پيښو کې ملکي کسان هغه وخت وژل شوی دي چې کله دوی په دې کې پاتې راغلی چې نظامي پوستو، کاروانونو يا نظامي اډو ته د نږدې کيدو په وخت کې لارښوونې مراعات کړي.

۹. يو پايښت لرونکی تمايل چې په ۲۰۰۸ کې مشاهده شوی او د ۲۰۰۹ کال تر لومړيو شپږو مياشتو پورې وغځيده دا و چې د حکومت ضد عناصرو په حکومت پلوه ځواکونو باندې مخامخ او غلچکی بريدونه څخه په ګوريلايي بريدونو اړولي لکه د چاوديدونکي مواد(په نقليه وسايلو کې چاوديدونکی مواد او په ځان پور تړلی چاوديدونکي توکي) او په نښه شوې وژنې.

۱۰. د ۲۰۰۹ کال له جنوری تر جون پورې ۵۹۵ مرګونې بريدونه د حکومت ضد عناصرو ته منسوبيدل او له دې بريدونو څخه ۴۰۰ وژنې د آی اي ډي او ځانمرګو بريدونو له امله رامنځ ته شوې دي. دغه شميره د ټولو هغو مرګونو ۶۷ ٪ په ډاګه کوی چې د حکومت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي دي او په دې ډول د ۲۰۰۹ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ټولټال ۱۰۱۳ وژنو څخه ۳۹,۵ سلنه جوړوي. د حکومت ضد عناصرو عمليات ډير ځله بې له دې کيږي چې د هغو اغيزې په ملکي کسانو باندې د مرګ ژوبلې او جوړښتونو د تخريب له پلوه په نظر کې ونيسي. د مشخصو پلټنو پر نبياد چې د يوناما د بشري حقونو د ځانګې له خوا ترسره شوې دي، معلومات ښيي چې حکومت ضد عناصر په ملکي سيمو کې ځانونه ځايوي، څو په عمدي ډول د جنګياليو او ملکي کسانو په منځ کې پيژندل ګران کړي او داسې بريښې چې د يوې فعالې پاليسې يوه برخه وي او هدف دا دی چې نظامي ځواکونه دې ته اړ کړی چې په هغو سيمو کې غبرګونه وښايي چيرې چې د ملکي کسانو د وژنې او ژوبلېدنې زيات امکان موجود وي. دغه راز د يوناما د بشري حقونو ځانګه په دې ډيره انديښمنه ده چې حکومت ضد عناصر د ملکي کسانو په منځ کې او يا د هغوي په ضد ډير ځله حملې کوي. د يوناما د بشري حقونو ځانګه دې ته ادامه ورکوي چې د عامه ترافيک په سړکونو، د اوسيدلو په ځايونو، مارکيټونو کې د چاوديدونکو موادو د ايښودلو ثبوتونه پيدا کړي. د يوناما د بشري حقونو ځانګې ياده کړې ده چې په ځينو ځايونو کې لکه جنوب ختيځ برخو کې د چاوديدونکو موادو په ذريعه د ملکي اشخاصو وژنه هدف و.

۱۱. د بشري مرستو په کارمندانو او حکومتي مامورينو باندې بريدونه د ښوونکو او طبي پرسونل په ګډون، زيات شمير افغانان له دې څخه منع کوي چې بشري مرستو ته لاس رسي پيدا کړي، خاصتا داسې مرستو ته چې د ژوند د ژغورلو لپاره ډيرې ضرورډي لکه روغتيا پالنه، خواړه، سرپنا او د ژوند لپاره نور ضروري خدمتونه. دغه بريدونه په ځانګړی ډول په ماشومانو او ښځو باندې چې په جنګ ځپلوسيمو کې اوسيږي ډيرې منفي اغيزې لري. د جنوب، جنوب لويديځ، جنوب ختيځ، ختيځ او د افغانستان د مرکزي برخو ډيرې سيمې د بشري مرستو د ادارو لپاره، چې هلته فعاليت کوي، د خطر څخه ډکې سيمې او داسې چاپيريال دی چې دښمنان په کې ډير فعاله دي. ښوونځي، خاصتا د نجونو ښوونځي تر بريدونو لاندې راغلي دي او په دې ډول په زرګونو زده کوونکي، په ځانګړی ډول نجونې د تعليم له حاصلولو څخه بې برخې شوې دي. د يونيسف د راپور له مخې د شپږو مياشتو په موده کې په ښوونځيو کې د چاوديدونکو موادو ۱۶ پيښې رامنځ ته شوې دي. د مثال په ډول د دې کال په اپريل کې دغور په ولايت کې د چاوديدونکو موادو په ذريعه دوه درسي خونې ورانې شوې دي. دغه بريد د ۲۰۰۷ کال راهيسې په ښوونځی باندې لومړی بريد و. د ۲۰۰۹ کال د مۍ په ۲۷ د لوګر ولايت د چرخ په ولسوالي کې د نوې کلا په حصه کې د نجونو په ښوونځي حمله وشوه. په بريد کې د حکومت ضد عناصرو له داسې وسلو څخه لکه آر پی جی راکيټ کار اخيستې و او د ښوونځي دروازه او څو کړکۍ يې ورانې کړي. د يوناما د بشري حقونو ځانګې دا هم ياده کړې ده چې په ختيځو او جنوب ختيځو برخو کې د هغو ښوونځيو په ضد د شپې ليکونه خپاره شوي دی چې د ټاکنو لپاره په نظر کې نيول شوی وو.

۱۲. د حکومت ضد عناصر زيات فعاليتونه د "کاميابه عملياتو" په ګډون چې د طالبانو د مشرتابه له خوا يې اعلان شوی دی او د امريکا د حکومت له خوا د پوځونو د زياتولو او په ۲۰ د اګست د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د ټاکنو په ضد

رامنځ ته شوی دا څرګندوی چي جګړه به په افغانستان کي نوره هم توده شي. که د جګړي دې اوسنی شکل ته وګورو د دې امکان شته چي په راتلونکو میاشتو کي به د ملکي کسانو د تلفاتو کچه نوره هم لوړه شي.

۱۳. یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو د لوړي کچي له امله ډیره اندیښمنه ده چي په افغانستان کي د رواني جګړي په نتیجه کي رامنځ ته کیږي او یو ځلی بیا دغه پیغام استوی چي په جګړه کي ښکیلي ټولي خواوی، په ځانګړی ډول وسله وال مخالفین باید ډیر نور څه وکړي څو د دوي د فعالیتونو او عملیاتو اغیزي په ملکي کسانو باندي کمي شي. په داسي حال کي چي حکومت پلوه ځواکونو د ملکي خلکو د تلفاتو په مسالي باندي چي د دوي د عملیاتو په پایله کي رامنځ ته کیږي، غور کړی دی، خو سره د دې هم د هوایي بریدونو په اثر د ملکی کسانو د وژني خبره لا تر اوسه هم د زیاتي اندیښني وړ ده. حکومت ضد عناصر دې ته ادامه ورکوي چي په غیر متوازن ډول بریدونه وکړي او د ملکي خلکو په سیمو کي عملیات وکړي چي د ملکي کسانو تلفات زیاتوي. یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر په جګړه کي ټولو ښکیلو خواوو ته ور په یاد وي چي دوی مسوولیت لري چي د نړیوال بشردوستانه قانون او د بین المللی بشري حقونو د قانون له مخي ملکي خلک وساتي.

## ملکي تلفات: جنوری- جون ۲۰۰۹

۱۴. لکه څنګه چي وویل شول وسله واله جګړه په افغانستان کي په ۲۰۰۸ کال کي او ددې کال په لومړیو شپږو میاشتو کي ډیره سخته شوې ده چي له دې سره په همدې کچه په ملکي تلفاتو کي زیاتوالی راغلی او د بشردوستانه مرستو لپاره چاپیریال ډیر تنګ شوي دی. د یوناما د بشري حقونو ځانګي د ۲۰۰۹ کال له جنوری څخه د جون تر دیرشمي پوري ۱۰۱۳ پېښي ثبتي کړي دی چي ملکي کسانو ته په کي مړینه اوښتي ده. دغه شمیر د ۲۰۰۸ سره په پرتله کي چي ۸۱۸ تنه ملکي کسان وژل شوي وو په سلوکی ۲۴ زیاتوالی په ډاګه کوي. د مرګ زیاتي پیښي په جنوب ختیځ، ختیځ، لویدیځ او د هیواد په مرکزی برخو کي رامنځ ته شوي دي. د یوناما د ارقامو له مخي ۵۹۵ تنه له دی جملي څخه (۵۹ ٪) یي د حکومت ضد عناصرو له خوا او ۳۱۰ تنه (۳۰,۵ ٪) د ملي او بین المللی پوځي ځواکونو له خوا وژل شوی دي. پاتي ۱۰۸ تنه (۱۰,۵ ٪) د جګړي یوی خوا ته هم نه شي منسوب کیدای.

۱۵. د یوناما د بشري حقونو ځانګي د فبروري څخه پرته د ۲۰۰۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کي د ۲۰۰۸ کال د همدې مودي په پرتله د ملکي کسانو په منځ کي زیات تلفات ثبت کړی دي. دغه حقیبت په دې ډول تعبیر کیدای شي چي د ۲۰۰۸ کال په وروستیو او د ۲۰۰۹ کال په لومړیو وختونو یاني د ژمي د موسم په دوران کي حکومت ضد عناصرو خپلي حملي زیاتي کړي دي (د تیرو کلونو په خلاف چي په دې موده کي به جنګي فعالیتونه کمیدل). نور لاملونه یي دا دی لکه په ملکي ساحو کي د نظامي عملیاتو زیاتیدل، د حکومت ضد عناصر په حملو کي پیچلوالی، له پاکستان سره د سرحد په اوږدو کي د نظامي عملیاتو زیاتوالی چي زیات شمیر جنګیالي یي افغانستان ته په راتګ سره اړ کړی دی، په بین المللی نظامي ځواکونو کي زیاتوالی، د ایساف او په افغانستان کي د امریکایي ځواکونو پالیسي چي د ژمي په موسم کي د شورشیانو په ضد خپل غبرګون شدید کړی او دغه راز د می او جون په میاشتو کي د عملیاتو شدت.

**#۱- د جنوری- جون ۲۰۰۷- ۲۰۰۹ ثبت شوی ملکي تلفات** ♦




♦ په دغه پراګراف کي شته معلومات له هغو منابعو څخه اخیستل شوی دی چي د یوناما د بشري حقونو د ځانګي له خوا یي پلټنه شوي ده او په منظم ډول نوی شوی دي. وروستني نوی معلومات د ۲۰۰۹ کال په جولای کي اضافه شوی دی.

۱۶. د ۲۰۰۹ کال په جنوری کې یوناما د وژنو ۱۲۷ پېښې ثبتې کړې دي (۴۴ د حکومت ضد عناصرو له خوا او ۶۳ د حکومت پلوه ځواکونو له خوا او د ۲۰ هغو مسوولیت نه و معلوم) دغه شمیر د ۲۰۰۸ کال د جنوری د میاشتې د ټولو ملکي مرګانیو پېښو (۵۶) (۳۷ د حکومت ضد عناصرو په لاس ۱۵ د حکومت پلوه ځواکونو په هغو او څلور نورې پېښې نامعلومې وې) په پرتله ۱۲۷ ٪ زیاتوالی ښیې. د ۲۰۰۹ کال د جنوری شمیر د ۲۰۰۸ د ډسمبر د ۱۰۴ پېښو په سر ۳۳ په سلو کې زیاتوالی څرګندوي. د ۲۰۰۹ په جنوری کې په څرګند ډول د ملکي کسانو د مرګ زیاته برخه حکومت پلوه عناصرو ته منسوبیده او کمه یې حکومت ضد عناصرو ته (۶۳ کسان حکومت پلوه ځواکونو وژلې وو او ۴۴ تنه د حکومت ضد عناصرو). دغه جریان د پخوانیو میاشتنیو تمایلاتو په خلاف جهت کې و چیرې چې حکومت ضد عناصر د ملکي کسانو د زیاتو وژنو لپاره مسوول ګڼل کیدل.

۱۷. د ۲۰۰۹ په فبروری کې د ملکي تلفاتو ۱۴۹ قضیې د یوناما له خوا ثبت شوې دی. ۸۰ تنه (۵۴ ٪) د حکومت ضد عناصرو په لاس ۴۶ تنه (۳۱ ٪) د حکومت پلوه ځواکونو په لاس وژل شوی دي او د ۲۳ (۱۵ ٪) نورو هغو مسوولین معلوم نه وو. ۱۴۹ مرګانۍ حادثې د جنوری د میاشتې د ثبتو شویو دې ډول قضیو ۳۴ ٪ زیاتوالی څرګند وي خو د ۲۰۰۸ کال د فبروری په میاشت کې د ۱۶۸ هغو ۱۲,۵ ٪ کموالی ښیې. د ۲۰۰۸ کال د فبروري په وژنو کې هغه خپل ځانمرګي برید هم شامل و چې د کندهار ولایت د ارغنداب په ولسوالی کې د سپیو د جنګ په مهال وشو او ۷۶ تنه یې له ځانه سره ووژل.

۱۸. یوناما د ۲۰۰۹ د مارچ په میاشت کې د ملکي کسانو د تلفاتو ۱۳۴ پېښې ثبت کړې دي. حکومت ضد عناصر د ۸۱ پېښو (۶۰ ٪) مسوولین وو او د ۳۴ پېښو (۲۵ ٪) مسوولیت حکومت پلوه ځواکونو ته منسوبیده په داسې حال کې چې د ۱۹ قضیو (۱۴ ٪) مسوولین نه وو معلوم. دغه شمیر د فبروري د میاشتې د ۱۴۹ ملکي تلفاتو په پرتله ۱۰ سلنه کموالی ښیې.

۱۹. د راپورونو له مخې چې یوناما ته رسیدلی دی د ۲۰۰۹ په اپریل کې ۱۲۹ تنه ملکي کسان په وسله واله جګړه کې وژل شوي دي. ۷۹ قضیې (۶۱ ٪) حکومت ضد عناصرو ته منسوبیدلې، ۳۲ (۲۵ ٪) حکومت پلوه عناصرو ته او د ۱۸ نورو قضیو (۱۴ ٪) مسوولن نه وو معلوم. جنوبي برخې تر ټولو زیات متاثرې وي چې ۶۲ تنه ملکي کسان په کې وژل شوي، ۴۰ تنه یې د حکومت ضد عناصرو په لاس او ۱۲ یې د حکومت پلوه عناصرو په لاس وژل شوی او د لسو نورو وژنو مسوولین معلوم نه شول.

۲۰. د ۲۰۰۹ د مۍ په میاشت کې یوناما د ۲۶۱ ملکي کسانو تلفات ثبت کړل چې ۱۶۳ تنه یې (۶۲ ٪) د حکومت ضد او ۸۱ ته (۳۱ ٪) د حکومت پلوه ځواکونو له خوا وژل شوي او د ۱۷ تنو (۶ ٪) نورو قضیو مسوولیت معلوم نه شو. لکه د نورو میاشتو په څیر جنوبی برخې بیا هم تر ټولو زیاتې متاثره شوې برخې وي چې ۹۴ تلفات په کې ثبت شوي دي. د مۍ د میاشتې د تلفاتو په زیاتوالی کې داسې عوامل په ټولیز ډول شامل دی لکه په پاکستان کې بې ثباتي، د نړیوالو نظامي ځواکونو زیاتوالی او دغه راز موسمي لاملونه. په لویدیځو برخو کې د ملکي تلفاتو شمیر ډیر پورته ولاړ چې ۷۱ داسې پېښې د یوناما له خوا ثبتې شوې دي. ۶۶ (۹۳ ٪) حکومت پلوه عناصرو ته منسوبیدلې او د ۵ (۷ ٪) نورو هغو مسوولین نه وو معلوم. دغه شیمر د اپریل د میاشتې له تلفاتو سره چې ۴ قضیې وي د مقایسې وړ نه وي چې ۴ تنه (۶۷ ٪) د حکومت ضد عناصرو له خوا او د ۲ (۳۳ ٪) تنو مسوولین معلوم نه شول. دغه ډراماتیک بدلون او زیاتوالی د فراه ولایت د بالا بلوک د حادثې له وجې و چې ۶۳ تنو ښځو او ماشومانو د مۍ د ۴ هوایې بریدونو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ.

۲۱. د ۲۰۰۹ د جون د میاشتې ریکارډ چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا برابر شوی څرګندوي چې ۲۱۳ ملکي کسان په وسله واله جګړه کې وژل شوي دي. دغه رقم ۲۴ ٪ د هغه شمیر زیاتوالی ښیې چې د ۲۰۰۸ کال د جون په میاشت کې وشول یعنې ۱۷۲ تنه وو او د کال له سر څخه دغه تمایل د ملکي تلفاتو په شمیر کې د تیر کال په پرتله یو څرګند زیاتوالی په ډاګه کوي. د ۲۱۳ ملکي کسانو څخه چې د ۲۰۰۹ په جون کې ثبت شوی دي ۱۴۸ تنه د حکومت ضد عناصرو له خوا او ۵۴ تنه یې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا وژل شوي او ۱۱ تنه نور یې په داسې شرایطو کې وژل شوی دی چې مسوولین یې معلوم نه شول. که د ۲۰۰۸ په جون کې د ملکي کسانو تلفات د ۲۰۰۹ کال د همدې میاشتې له تلفاتو سره پرتله کړو، ۹۰ سلنه زیاتوالي په کې راغلی (د ۲۰۰۸ په جون کې ۷۸ کسان وژل شوی دی) په داسې حال کې چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د وژنو کچه ۲۴ ٪ ته راټیټه شوې وه (د ۲۰۰۸ په جون کې ۷۴ ملکي کسان د حکومت پلوه ځواکونو په لاس وژل شوې دي.) د هغو کسانو شمر چې د وژنو مسوولین یې معلوم نه شول هم ۴۵ ٪ راټیټ شوی و (د ۲۰۰۸ د جون په میاشت کې ۲۰ تنه ملکي کسان وژل شوی وو چې مسوولین یې معلوم نه شول). د ۵۴ ملکي کسانو له تلفاتو څخه چې د ۲۰۰۹ د جون په میاشت کې د حکومت پلوه ځواکونو د عملیاتو په ترځ کې وژل شوی دی ۴۰ ( د ټولو هغو تلفاتو چې د حکومت پلوه عناصرو له خوا شوی دی ۷۴ ٪ او په دې میاشت کې د ملکي ټولو تلفاتو ۱۹ ٪) تنو خپل ژوند د هوایې بریدونو په پایله کې له لاسه ورکړ او ۲ (د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د ټولو تلفاتو ۴ ٪ او په دې میاشت کې د ټولو ملکي تلفاتو په سلو کې یو) تنه د جنګي عملیاتو د پراختیا له وجې مړه شوی. د حکومت ضد عناصرو له خوا د ۱۴۷ تنو څخه ۱۴ (د حکومت ضد عناصرو په لاس د ټولو وژنو ۹ ٪ او په دې میاشت کې د ټولو ملکي تلفاتو ۶,۵ ٪) تنه یې په نښه شوی وو، په داسې حال کې چې ۹۶ تنه (د حکومت ضد

عناصرو له خوا د ټولو تلفاتو ۶۵ ٪ او په دې مياشت کې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۵ ٪) د چاوديدونکو موادو او ځانمرګو بريدونو په پايله کې وژل شوی او ۱۵ تنه يې (د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د ټولو تلفاتو ۱۰ ٪ او په دې مياشت کې د ټولو ملکي تلفاتو ۷ ٪) د راکټونو او بمونو په ذريعه وژل شوی دي. د ۲۰۰۹ په جون کې په جنوب کې تر ټولو زيات تلفات رامنځ ته شوی چې ۹۲ پيښې ثبت شوې ورپسې په جنوب ختيځ کې ۵۰ قضيې او په ختيځ کې ۱۶ مرګانی قضيې ثبتي شوي دي.

### # ۳- د دولت ضد عناصرو او د دولت پلوه وسله والو ځواکونو له خوا ثبت شوی ملکي تلفات جنوري- جون ۲۰۰۸




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دولت ضد عناصر: 495 | 37 | 137 | 45 | 94 | 104 | 78 |
| دولت پلوه وسله وال خواکونه: 276 | 15 | 27 | 70 | 37 | 53 | 74 |
| نور: 47 | 4 | 4 | 7 | 5 | 7 | 20 |

### # ۳- د دولت ضد عناصرو او د دولت پلوه وسله والو ځواکونو له خوا ثبت شوی ملکي تلفات جنوری- جون ۲۰۰۹




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دولت ضد عناصر: 595 | 44 | 80 | 81 | 79 | 163 | 148 |
| دولت پلوه خواکونه: 310 | 63 | 46 | 34 | 32 | 81 | 54 |
| نور: 108 | 20 | 23 | 19 | 18 | 17 | 11 |

**#۴- تصادف ډوله ثبت شوي ملکي تلفات**
**جنوری- جون ۲۰۰۹**




## د دولت ضد عناصرو له خوا تعبیه شوي چاودیدونکی وسیلي او ځان مرګي بریدونه

۲۲. د دولت ضد عناصر د زیاتو ملکي تلفاتو مسوولیت په غاړه لري. د تعبیه شوو چاودیدونکو وسیلو کارول چې د خپل خصوصیت له مخي بي توپیره دي د ۲۰۰۹ کال د څو میاشتو راهیسي زیات شوي دي. هغه د ملکي کسانو وژني چې د راپوررونو له مخي د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره کیږي د ۷۰۰ څخه په ۲۰۰۷ کې تر ۱۱۶۰ تنو پورې په ۲۰۰۸ کې ورسیدلي چې ۶۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د ۲۰۰۹ کال په لومړیو کې د دولت ضد عناصرو ۵۹۵ ملکي کسان ووژل چې د هغو له جملي څخه ۴۰۰ تنه یې د ځای پر ځای کړای شوو چاودیدونکو وسیلو د بې توپیره کاروني او ځانمرګي بریدونو له امله ووژل شول. دا د ټولو هغو وژنو ۶۷ سلنه ده چې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوی دي او په دغه موده کې د ټولو ۱۰۱۳ ملکي وژل شوو کسانو ۳۹,۵ سلنه ده.

**#۵- د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي ملکي تلفات**
**جنوری- جون ۲۰۰۹** [1]




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Suicide & IED Attacks | 28 | 62 | 56 | 56 | 102 | 96 |
| Assassinations | 12 | 16 | 14 | 22 | 32 | 14 |
| Other tactics | 4 | 2 | 11 | 1 | 29 | 38 |

1

۲۳. د ځانمرګو بريدونو او د تعبيه شوو چاوديدونکو وسيلو د لارې په بريدونو کې ډيری ملکي افغانان د نورو هغو تاکتيکونو په پرتله وژل شوی دي چې په جګړه کې شاملې خواووې يې کاروي. که څه هم دغه ډول بريدونه زياتره وخت د پوځي او دولتي اهدافو پر ضد ترسره کيږي، خو دا زيات وخت د ګڼې ګونې په ساحو کې پرته له دې چې دا په پام کې ونيو ل شي چې هغه د زياتو ملکي وګړو د ټپي کيدنو او وژنو سبب ګرځي، ترسره کيږي. په مرکزي سيمو کې د بيلګې په ډول د يوناما د بشري حقونو څانګې دا ثبت کړې ده چې دولت ضد عناصرو ۵۹ ملکي کسان د ۲۰۰۹ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې وژلي دي چې د هغو له جملې څخه ۴۲ تنه يې پر ځان پورې د ځای پر ځای شوو چاوديدونکو وسيلو او د لارې پر سر د تعبيه شوو چاوديدونکو موادو د لارې وژل شوي دي.

۲۴. ځانمرګي او د تعبيه شويو چاوديدونکو وسيلو بريدونه د نړيوال قانون د اړوندو اصولو څخه د سرغړونې په صورت کې ترسره کيږي. د جګړې دغه ميتود چې غوره شوی دی، په هغه کې په ځانګړی ډول تعبيه شوی چاوديدونکي وسيلې او ځانمرګي بمونه د خپل خصوصيت له مخې بې توپيره دي، حتی په داسې حالاتو کې چيرته چې نظامي هدفونه په نښه کيږي د دغو وسيلو خصوصيت داسې دی چې په محل کې ټول موجود افراد تر خطر لاندې را ولي چې يا وژل کيږي يا ټپي کيږي او اکثره وخت ډير زيات غير متناسب تاوانونه ملکيانو ته رسيږي.

۲۵. دولت ضد عناصر اکثره وخت د تعبيه شوو چاوديدونکو موادو او ځانمرګو بريدونو څخه کار اخلي څو هغه ملکي وګړي هدف کړي چې د نړيوالو وسله والو ځواکونواو ساختماني شرکتونو لپاره کار کوي چې يا خو د پې آر ټي او يا هم ولايتي حکومتي ادارو له خوا استخدام شوی دي، همدارنګه هغوي د نړيوالو نظامي ځواکونو کتارونه چې مواد او کالي رسوي او دا په خصوصي قرارداديانو پورې اړه لري، تر بريد لاندې نيسي. د تعبيه شوو چاوديدونکو موادو او هم د ځانمرګو بريدونو په ترڅ کې د ښوونځيو ملکيتونه تخريب او ويجاړيږي، زده کوونکي، ښوونکي او د معارف د سکټور نور کارکوونکي وژل کيږي او يا هم ټپی کيږي.

۲۶. په پرلپسې او پراخه توګه د تعبيه شوو چاوديدونکو موادو له امله د ډار او ويرې فضاء رامنځته شوې ده چې ددې له امله د افغانستان د ملکي وګړو لپاره زياتې ستونزې رامنځته شوې دي چې په دې کې د خلکو د ژوند او معيشت له منځه تلل شامل دي. تعبيه شوي چاوديدونکي مواد په بې توپيره توګه نصبيږي چې ورسره ځانمرګي بريدونه شامل دي چې هغو ملکي وګړو ته تاوان رسوي چې د دولت ملاتړي دي او يا هم ورسره کار کوي او دا چې د دولت پلوي ځواکونه تر هدف لاندې راځي.د يوناما د بشري حقونو څانګې د تعبيه شوو چاوديدونکو موادو يو شمير پيښې ثبت کړي دي چې د افغانستان د ملي پوليسو ملکي کارکوونکو او نورو هغو کسانو پر ضد چې د دولت او نړيوالې ټولنې سره کار کوي د هغوي د اوسيدنې د ځايونو د باندې ځای پر ځای کړای شوی دي. د مثال په ډول د ۲۰۰۹ کال د مې په ۱۹ نېټه د خوست ولايت د ښځو د چارو د رياست د رئيسې د موټر لاندې يوه ځای پر ځای کړای شوې چاوديدونکې وسيله و چاوديدله چې ددې موخه د دغې رئيسې ډارول او تهديد و. د دې چاودنې څخه يوه مياشت تر مخه ګڼ شمير ګواښونه او تهديدونه هغې ته رسيدلې و.

۲۷. د يوناما د بشري حقونو څانګې همدارنګه دا يادداښت کړې ده چې د هدف لاندې په راغلو وژنو کې چې د ځای پر ځای شوو چاوديدونکو موادو د لارې چې پر دولتي کارمندانو يې صورت موندلی دی چې په دې لړ کې په ۲۰۰۹ کې د فبرورۍ په ۷ نېټه د لعل پورې د ولسوالۍ ولسوال او ډرايور يې دليرې څخه د کنټرول کيدونکې چاوديدونکې وسيلې په ذريعه ووژل شول. د ۲۰۰۹ کال د مې په ۴ نېټه د لغمان ولايت د مهتر لام ښاروال و وژل شو او همدارنګه ۶ نور ملکي کسان د بدن د لارې د ځای پر ځای کړای شوو چاوديدونکو موادو د چاودنې په صورت کې ووژل شول او نور ۱۰ تنه يې ټپيان کړل. د ۲۰۰۹ کال د مې په ۲۹ نېټه د کندز ولايت والی د ليرې څخه د کنټرول کيدونکی چاوديدونکې وسيلې په ذريعه د تالقان ولسوالۍ د چشمه شير په کلی کې ټپي کړای شو.

۲۸. د يوناما د بشري حقونو څانګې همدارنګه هغه نوي جريان ثبت کړي دي چې د ۲۰۰۹ کال د مې او جون څخه پيل شوېدي چې به دې توګه تعبيه کيدونکی چاوديدونکي مقناطسي مواد د نقليه وسيلو د لاندې نصب کيږي چې هغه ګڼ شمير کسان تر بريد لاندې راځي چې زياتره يې د دولت او يا نړيوالو ځواکونو سره کار کوي. د ۲۰۰۹ کال د مې په ۲۹ نېټه د خوست ښار په مارکيټ کې يو تن ترجمان چې د نړيوالو نظامي ځواکونو لپاره يې کار کولو و وژل شو او نور ۴ تنه ټپيان کړای شول چې دلته هم يوه مقناطسي وسيله د هغه په نقليه وسيله پورې نښلول شوې وه. د ۲۰۰۹ کال د جون په ۲۷ نېټه د يوې نقليه وسيلې د لاندې تعبيه شوې چاوديدونکی وسيله وچاوديدله او دا چې د راپورونو له مخې نوموړی شخص د خوست په ښار کې د ايساف لپاره خدمات برابرول.

۲۹. تعبيه شوي چاوديدونکی مواد د اوسيدنې او سوداګرۍ د ګڼې ګونې په ځايونو کې لکه مارکيټونه، د موسيقۍ دوکانونه او يا هم د هغو دوکانونو خوا وشا کې چې داسې کالي او شيان چې هغه "غير اخلاقي" ګڼل کيږي لکه ډی وي ډي ځای پر ځای کيږي. د ۲۰۰۹ کال د اپريل په ۱۲ نېټه يو ه ځای پر ځای کړای شوې چاوديدونکې وسيله چې هغه هم په هغه کراچۍ کې

ځای پر ځای کړای شوې وه چې ځوان هلک چلوله او دوخت څخه وړاندې د والي د دفتر په ۲ میټرۍ کې یې د سمنګانو د ایبک په ښار کې وچاودیدله چې همغه ماشوم یې و وژلو او څنګ ته ولاړه یوه ښځه یې ټپي کړله. هغه څیړنې چې د چاودیدنې سمدستي وروسته وشوې دا یې وښودله چې دغه تعبیه شوې چاودیدونکې وسیله د هغه په کراچۍ کې پرته له دې چې هغه پرې خبر و اوسي نصب شوې وه.

**د پیښې څیړنه**

د ۲۰۰۹ کال د مۍ به ۷ نیټه یو تن چې پر موټر سایکل یې چاودیدونکي مواد ځای پر ځای کړي و او غوښتل یې چې نړیوال وسله وال ځواکونه په نښه کړي خپل د چاودیدونکي موادو واسکټ یې د ګرشک د ښار چې د هلمند ولایت د شهر سراج په ولسوالۍ پورې تړاو لري په یو مارکیټ کې وچولو چې ددغې چاودنې په پایله کې ۲۳ تنه ملکیان ووژل شول او ۱۷ نور یې ټپیان شول. دا د ګرشک د ښار په مارکیت کې په تیرو شپږو میاشتو کې پنځمه پیښه ده چې نړیوال او افغان وسله وال ځواکونه تر برید لاندې نیسي، په داسې حال کې چې ددغو پیښو آساسي قربانیان ملکي وګړي دي: د هغو ۳۵ ملکي تلفاتو سره چې په دغو پیښو کې رامنځته شوې دي ۲ افغان ملي پولیس وژل شوي او ۵ نور یې ټپیآن شوي دي.

۳۰. هغه یو ځای بریدونه چې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای کړای شوو وسیلو او ځانمرګو بریدونو په ترڅ کې ترسره کیږي د تیرو شپږو میاشتو را په دې خوا ډیر پیچلي شوي دي. دغه تاکتیک چیرته چې یو شمیر نقلیه وسایط او په بدن پورې د چاودیدونکو موادو لیږدونکی برید کوونکی کارول کیږي څو ګڼ شمیر دولتي ځایونه تر برید لاندې ونیسي د دې لپاره چې زیاته شمیره کې تلفات رامنځته کړي، چې زیاتره وخت دا هغه ملکیان دي چې په دغو ځایونو کې کار کوي او دا د دولت د ضد عناصرو یو عام تاکتیک دی. هغه همغږی شوي برید ونه چې د عدلیې وزارت د مرکزي زندانونو د ریاست په مرکز، د معارف وزارت او په کابل کې د ملي امنیت د ریاست په وړاندې د ۲۰۰۹ کال د فبرورۍ په ۱۱ نیټه ترسره شول په نتیجه کې یې لږ تر لږه ۲۱ تنه و وژل شول. د دغې پیښې په اړه یوناما ته داسې راپوروونه ورسیدل چې د دولت زیات کارکوونکي په قصدي توګه د باندې را وایستل شوي او تر برید لاندې راغلي دي، په داسې حال کې چې په څرګنده هغوي غیر جنګي کسان و.

**په کندهار کې پر دولتی وادنیو ګڼ بریدونه**

د کندهار ښار د ولایتي شورا پر ودانۍ د ۲۰۰۹ کال د اپریل په ۱ نیټه ګڼ برید ترسره شو. د دغه کمپاونډ (ودانۍ) د ننوتلو په دروازه کې د موټر په وسیله چاودنه ترسره شوه چې په دې توګه د هغو شبږو کسانو لپاره د ننوتلو زمینه برابره شي چې ای کی ۴۷ ډوله کلاشنکوفونه ورسره و او ځانمرګي واسکټونه یې پر تن و. ددغو کسانو له ډلې څخه دوه یې د موټر په چاودنه کې مړه شول او نور څلور تنه یې دغې ودانۍ ته ننوتل. سمدستي دوه بریدکوونکو خپل واسکټونه وچول او دوه نور یې په ډزو سره وړاندې تر دې چې ځانونه والوځوي و وژل شول. د دغو اوو تنو برید کوونکو سربیره چې په دغه برید کې و وژل شول، په کې درې دولتي کارمندان، دوه د ولایتي شورا کارمندان، او اوه تنه ملي پولیس شامل و. د دې سربیره لږ تر لږه ۱۷ تنه ملکي کسان ټپیان شول چې هغو کې ۷ تنه د ولایتي شورا غړي هم شامل و. د برید پرمهال دغه ودانۍ کې یو روزنیز پروګرام روان و.

Formatted: Right-to-left

Formatted: Complex Script Font: Italic, (Complex) Pashto

**د خوست د ولایت په اداري دفتر باندې ګڼ برید**

د خوست ولایت په اداري دفتر باندې د ۲۰۰۹ کال د مۍ په ۱۲ نېټه برید کې ۲۱ تنه د درې ملکي وګړو په شمول ووژل شول او نور ۲۵ تنه ټپیان شول چې په هغو کې ۲۲ یې ملکي کسان و، د ۱۱ بجو په شاوخوا کې د دولت ضد عناصرو یوې ډلې د خوست د ولایت د والی او د پولیسو د قوماندانۍ ودانۍ پر یو مهال د برید لاندې راوستلې. برید کوونکو د چاودیدونکي موادو، ددرنو او کوچنیو وسلو څخه کار واخیست. د والی پر دفتر باندې دغه برید د یوې نقلیه وسیلې په ذریعه چې چاودیدونکې مواد یې درلودل او د یو تن له خوا چې پر بدن پورې یې چاودیدونکې مواد تړلی و او برقعه یې پر ځان وه ترسره شو. د پولیسو قوماندانۍ د ښاروالۍ د دفتر د ودانۍ د لارې تر برید لاندې راغله چې د وړاندې څخه شورشیانو نیولې وه. د راپور له مخې د ورځې له خوا ځینې ددولت ضد عناصر (ځانمرګي برید کوونکي) په ښار کې خپاره شول. هغوي د ایساف او د افغان وسله والو ځواکونو له خوا تر تعقیب لاندې و او هغوي د ښار مرکز هم محاصره کړی وو. د ښاروالۍ دفتر د شورشیانو له خوا محاصره وو او د ۱۳:۰۰ بجو څخه د دولت ضد عناصرو، د ایساف او افغان ملی وسله والو ځواکونو ترمنځ سخته جګړه راوانه وه. په دغه نښته کې د لاسي بمونو، درنو او سپکو وسلو څخه کار اخیستل شوی او د درنو چاودنو غږونه اوریدل شوي (په بدن پورې د نښلول شوو چاودیدونکو وسیلو له لارې) د ۱۶:۰۰ بجو په خواوشا کې په داسې حال کې چې حالات آرام و یوه بله ستره چاودنه په ښاروالۍ کې ترسره شوه. د الجزیره تلویزیون سره په مرکه کې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد دا ومنله چې پر دولتي ودانیو دغه برید د ۳۰ ځانمرګو بریدکوونکو له خوا چې ښار ته ننوتل ترسره شو. هغه زیاته کړه چې هغوي ځکه خوست تر برید لاندې ونیولو چې هلته زیات نړیوال ځواکونه حضور لري. په داسې حال کې چې دغه بریدونه د ملکي هدفونو پر خلاف پرته له دې چې هلته د ملکي کسانو حضور په پام کې ونیول شي، ترسره شول.

**Formatted:** Font: Italic, (Complex) Pashto

۳۱. دا چې وسله وال مخالفین اراده لري چې ملکي وګړي د ماشومانو په ګډون د ځای پر ځای کړای شوو چاودیدونکو وسیلو د لارې په ویره او ډار کې راولي په ښکاره توګه د دولت ضد عناصرو له خوا پرته له دې چې ملکي تلفات په پام کې ونیسي چې د دوي د اعمالو په نتیجه کې زیاتوالی مومي، تر سره کیږي. پرته له دې چې پر ملکیانو باندې د هغوي د فعالیتونو اغیزه راکمه کړای شي د وسله والو مخالفینو بیلا بیلې ډلې په عمدي او قصدي ډول غیر توپیري تاکتیکونه لکه د تعبیه شوو چاودیدونکو موادو کارول، استعمالوي. هغه وینا چې د ۲۰۰۹ کال د جون په میاشت کې د ملا عمر د یو مرستیال له خوا ترسره شوه د ځانګړې پاملرنې وړ ده. دغه بیانیه دا په ګوته کوي چې د دوي جنګیالی باید ځانونه د ملکي کسانو په منځ کې ځای پر ځای کړی او ملکیان باید دې ته چمتو وي چې مړه شي ځکه چې دغه ډول تاکتیکونه د دولت پلوه ځواکونو غبرګون راپاروي او د دوي مبارزه د دولتي ملاتړ د کمښت په نتیجه کې او د نړیوالو ځواکونو او په عام صورت په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې د حضور تداوم له امله تقویه کیږي. که څه هم ټول کسان چې د وسله وال اپوزیسیون سره اخته دي یو ډول مسوولیت لري چې د نړیوال بشردوستانه قانون دغوښتنو رعایت ولري چې په دې کې لږ تر لږه دا شامل دي چې په فعالانه ډول باید ملکي وګړي تر برید لاندې را نه شي او دا چې د عملیاتو د سرته رسولو پرمهال توپیر او تناسب په پام کې ونیول شي، ددې سربیره د هغوي هغه مکلفیتونه چې د افغانستان د قوانینو په چوکاټ کې دي باید ترسره شي.

## د دولت پلوه ځواکونو له خوا هوايي بریدونه

۳۲. په ملکي ځایونو کې د هوایي بریدونو کارول د دولت پلوه ځواکونو له خوا د زیاتو ملکي وژنو لامل ګرځي. د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ او جون په میاشتو کې یوناما ۲۰۰ وژنې چې د هوايي بریدونو له امله ترسره شوې ثبت کړې دي. دا د ټولو ۳۱۰ ملکي وژنو ۶۴,۵ سلنه جوړوي چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا ترسره شوي دي او یا هم ۲۰ سلنه د ټولو هغو ملکي وژنو ده چې په دغه موده کې ټولټال ۱۰۱۳ تنه جوړوي. دغه سلنه یو څه د هغو شمیرو څخه ټیټه ده چې د ۲۰۰۸ د ټول کال په اوږدو کې وه، کله چې د یوناما د بشري حقونو څانګې ۵۵۲ تنه کسان ثبت کړل چې د هوايي بریدونو په ترڅ کې وژل شوي و، یوه شمیره چې د ۸۲۸ غیر جنګي وژل شوو کسانو تر منځ ۶۷ سلنه جوړوي چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا په ترسره شووو عملیاتو کې ده او یا هم د ټولو ۲۱۱۸ ملکي کسانو ۲۶ سلنه جوړوي چې په ټولیز ډول وژل شوي دي.

**#۶- د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي قربانیانو شمیره (جنوری- جون ۲۰۰۹ )**




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Air Strike | 23 | 21 | 8 | 16 | 81 | 51 | 200 |
| Force Protection | 2 | 4 | 3 | 3 | 0 | 2 | 14 |
| Other tactics | 38 | 21 | 23 | 13 | 0 | 1 | 96 |

.۳۳ د ۲۰۰۹ کال په جنورۍ کې د یوناما د بشري حقونو څانګې د هوايي بریدونو څلور پیښې ثبت کړلې چې د هغو په نتیجه کې ۲۳ تنه ملکي وګړي ووژل شول. د ۲۰۰۹ کال په فبروري کې دوه د هوايي بریدونو پیښې شوې دي چې د هغو له امله ۲۱ تنه ملکیان ووژل شول. د یوناما د بشري حقونو څانګې د ۲۰۰۹ کال د مارچ په میاشت کې درې هوايي بریدونه ثبت کړل چې په کې ۸ تنه ملکیان له منځه ولاړل. د ۲۰۰۹ کال په اپریل کې پنځه هوايي بریدونه ثبت شول چې د ۱۶ ملکي وګړو ژوند یې واخیست. د ۲۰۰۹ کال په مۍ کې ۴ هوايي بریدونو ۸۱ تنه ملکي تلفات درلودل چې د ملکي تلفاتو په برخه کې دغه میاشت تر ټولو مرګونې میاشت د کال په لومړنۍ نیمايي کې وه. یوناما د دغو مرګونو څخه ۶۳ یې د هغو هوايي بریدونو نتیجه بولي چې د ۲۰۰۹ کال د مۍ په ۴ نېټه د فراه ولایت د بالا بلوک د ولسوالۍ د ګیراني په کلي کې ترسره شول. د ۲۰۰۹ کال د جون په میاشت کې د ۶ هوايي بریدونو له امله ۵۱ تنه ملکي کسان ووژل شول چې دا د ملکي تلفاتو په برخه کې دوهمه مرګونې میاشت وه چې د ۲۰۰۹ کال په لومړنۍ نیمايي کې یې د هوايي بریدونو له امله رامنځته کړل، چې په دوی کې هغه ۱۸ تنه ملکي وګړي هم شامل وو چې د دوو جلا، جلا هوايي بریدونو له امله په مرکزي جګو سیمو کې رامنځته شول. دغه شمیرې او ارقام دا په ډاګه کوي ؛ په داسې حال کې چې د مرګونو هوايي بریدونو شمیره په عمومي ډول کمه ده، خو کله چې هغه ترسره کیږي نو یوه زیاته شمیره مرګونه له ځانه سره لري، لکه چې دا د بالابلوک د ولسوالۍ د مۍ د ۴ نېټې د پیښې څخه جوتیږي. د اندیښنې وړ په انکشافاتو کې د یوناما د بشري حقونو څانګې ته دا راپور ورسید چې د ۲۰۰۹ کال دجون په ۵ نېټه د دایکندي ولایت د کرجان ولسوالۍ د بالادشت په کلی کې چې په مرکزي سیمه کې موقعیت لري د یوه هوايي برید له امله پنځه تنه ملکي وګړي ووژل شول او د جون په ۱۴ نېټه په همدغه کلی باندې ددوهم برید له امله نور ۱۳ تنه ملکي وګړی له منځه ولاړل چې په هغو کې ۸ تنه ماشومان هم شامل و. دا لومړنی ثبت شوی هوايي برید دی چې د ۲۰۰۵ کال را په دې خوا د جګړې د تشدید په صورت کې په دې سیمه کې صورت نیسي او دا د دې ښکارندویه ده چې جګړه ډیرو با ثباته او ټیکاو درلودونکو سیمو ته ، چیرته چې د دولت ضد عناصرو ننوتل زیاتوالی مومي، خپریږي.

**<u>د ګزره په ولسوالۍ کې هوايي برید</u>**

د فبروري په ۱۷ نېټه نړیوالو ځواکونو د کورکوسا (کاریز سلطان) په سیمه کې چې د هرات ولایت د ګزرې په ولسوالۍ کې موقعیت لري یو هوايي برید وکړ. د راپور له مخې دوه بمونو دوه دریدلې نقلیه وسیلې چې د کوچیانو د دوو خیمو تر منځ د کوچیانو د ۱۳ کورنیو په میشت ځایونو کې وي تر هدف لاندې ونیولې. یوناما ته دا څرګنده شوه چې ددې برید له امله ۱۳ تنه کوچي ملکي وګړي ووژل شول. دغه هوايي برید په دې موخه ترسره شوی و چې د دولت ضد عناصرو مشهور قوماندان غلام یحی له منځه یوسي چې وروسته معلومه شوه چې نوموړی د برید په محل کې نه وو.

۳۴. هوايي بريدونه زياتره د هغو عملياتو په ترڅ کې کيږي چې د ځانګړو هدفونو پر خلاف تر سره شي او يا هم کله چې په "تماس کې قطعاتو" (Tic) باندې د شورشيانو پر خلاف د بريد لپاره غږ کيږي. ديوناما د بشري حقونو څانګې ته دا جوته شوې ده چې د وړاندې څخه په پلان شوو بريدونو کې د (ټيک) حالاتو په پرتله لږ ملکي تلفات وي. که څه هم د وړاندې څخه په ټاکل شوي هدف باندې د تمرکز په صورت کې لکه د منځنۍ کچې څخه د طالبانو د لوړې کچې د قوماندانو د هدف د نيولو په صورت کې داسې حالات رامنځته کيږي چې د وړاندې څخه پلان شوي هوايي بريدونه په داسې هدفونو ترسره شي چې هغه د زياتو ملکي وګړو د تمرکز ځايونه وي او په دې کې ملکي کسان له منځه ځي. د مثال په ډول د يوناما د بشري حقونو څانګې دا ثبت کړې ده چې د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ په ۹ نېټه هغه وخت يو ملکي وګړي ووژل شو او ګڼ شمير ټپيان شول چې د کنړ د ولايت د پيچ درې په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د پټن ځايونو پر خلاف د عملياتو په نتيجه کې د وژل شوی تن کور هدف وګرځيد. د ۲۰۰۹ کال د اپريل په دوهمه نېټه د يوې نړيوالې غير دولتی موسسې يو تن محلي کارمند هغه وخت و وژل شو کله چې د لوګر د ولايت د برکی برک په ولسوالۍ کې پر يو کلی باندې د شپې له خوا د هوايي بريد په نتيجه کې په غلطۍ سره د هغه د خپلوانو کور تر هدف لاندې راغي. د ۲۰۰۹ کال د اپريل په ۲۷ نېټه د هلمند ولايت په لشکرګاه کې د ايساف او د دولت ضد عناصرو تر منځ د نښتې په نتيجه کې دوه ملکي کسان هغه وخت ووژل شول کله چې د هغوي کور د هوايي بريد د چاودنې د ګوزار له امله ړنګ شو.

۳۵. هغه معلومات چې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د هوايي بريدونو د پيښو په اړه راټول شوي دي د دې وړانديز کوي چې ملکي تلفات زياتره د نږدې څخه د (ټيک) په حالاتو کې منځ ته راځي په تيره بيا کله چې دغه عمليات په کليو او نورو ځايونو کې ترسره کيږي چيرته چې ملکي وګړي متمرکز وي. ملکي وګړي هغه وخت په ډير خطر کې دي کله چې د ځمکنيو ځواکونو د ملاتړ لپاره د هوايي بريدونو مرسته غوښتل کيږي او ملکي مرکزونه تر بريد لاندې راځي ځکه چې وسله والو کسانو په دغو مرکزونو کې ځای نيولی وی (ځيني وختونه پرته له دې چې دا په پام کې ونيول شي چې آيا ملکي کسان هلته حضور لري او که نه) او يا هم د استخباراتو له امله (چې د پيښې وروسته دا معلومه شي چې هغه معلومات نا سم او ګمراه کوونکي و)، دا چې هلته د طالبانو قوماندان او يا هم د دولت ضد عناصرو شبکې شته ، په داسې حال کې چې هغوي د ملکي کسانو د اوسيدنې ځای ځان د پناه ځای په توګه کاروي. په ډيرو پيښو کې چې يوناما يې ځيړنه کړې ده دا څرګنده شوې ده چې د ميلمه پالنې د عنعنې او رسم رواج او ځواک له امله په کليو کې د اوسيدونکو لپاره چيرته چې د دولت ضد عناصرو يو قوماندان او يا د هغو کسانو ته د پناه ورکولو او يا د هغوي کورونو ته د ننوتلو څخه انکار نه شی کولای. معلومات دا جوتوي چې ددولت ضد عناصر د دغو عواملو او فکتورونو څخه د دې لپاره کار اخلي چې د ملکي وګړو د کورونو څخه د پوښښ په توګه او د دولت پلوه ځواکونو د بريدونو په وړاندې د مخنيوی لپاره کار واخلي، او يا دا چې د دولت پلوه ځواکونو د بريدونو پر مهال ملکي تلفات زيات کړي او په دې توګه د نړيوال بشردوستانه قانون څخه سرغړونه کوي.

**د بالا بلوک په ولسوالۍ کې هوايي بريدونه**

هغه پيښه چې د فراه ولايت د بالا بلوک د ولسوالۍ په ګيراني کلی کې د ۲۰۰۹ کال د مۍ په ۵ نېټه وشوه د ملکي اوسيدونکو په ساحو کې د هوايي بريدونو د اغيزو ځرګندويه ده، په دغه پيښه کې ۶۴ تنه (۶۳ تنه ښځې او ماشومان د هوايي بريد پر مهال او يوه نجلۍ د متقابلو ډزو پر مهال) و وژل شول. د دغې پيښې د څېړنو په پايله کې د امريکې د متحده الاياتو پوځيانو دا ومنله چې هغوي د پوځ د داخلي لارښوونو په چوکاټ کې پاتې راغلي دي. په دې برخه کې تحقيقات د هغو هوايي بريدونو ترمنځ توپير کوي چې د ورځې له خوا ترسره کيږي او هغه چې د ماښام پرمهال وي. دغه بريدونه چې د ماښا م پر مهال دي د "د ټولو ځانګړو لارښوونو او د قوماندانانو د ارادي سره چې د کنترول په دايرکتيف کې راځي [....]" تطابق نه لري او دا کيدای شي چې "غالبا د ملکي تلفاتو سبب شول." (د امريکا د متحده ايالاتو د مرکزی قوماندې د راپور لنډيز چې د فراه دولايت د ملکي تلفاتود تحقيقاتو په لړ کې په افغانستان کې د ۲۰۰۹ کال د مۍ په ۴ او د جون په ۱۸ نېټه ترتيب شوی دی). د امريکا د متحده ايالاتو تحقيقاتو دا نتيجه ګيري هم کړې ده چې ۲۶ تنه ملکي وګړي د پيښې په ترځ کې وژل شوی دي، که څه هم په دغه تحقيق کې د زياتو تلفاتو د شمير امکان نه دې رد شوی. دې راپور کې همدارنګه د بشري حقونو د خپلوا ک کميسيون هغه راپور ته هم اشاره شوې ده چې د ملکي وګړو تلفات ۸۶ تنه ځرګندوي.

د يوناما د بشري حقونو د څآنګې په حواله داسې جوتيږي چې د امريکا د متحده ايالاتو ځواکونو د بريد څخه تر مخه کافی او لازم احتياطی تدبيرونه په پام کې نه دی نيولی. ارزونه بايد دا وټاکي چې آيا ملکي وګړي په غير متناسب ډول متضرر شو ي دي او آيا دا مناسبه وه چې د اوسيدنې په ځايونو کې د هوايي بريدونو څخه کار واخيستل شي. د يوناما د بشري حقونو څانګې همدارنګه دا يادابښت کړې ده چې د ورځې پرمهال هوايي بريدونه او هغه بريدونه چې د ماښام پر مهال ترسره شو ي دي په ښکاره توګه په بيلا بيلو ځايونو کې و. زيات بريدونه د ځمکنيو بريدونو په پای کې د ماښا م د لمانځه پرمهال ترسره شوي دي.

دغه پيښه د هغو تاکتيکي لارښوونو د نشر وروسته وشوه چې د ۲۰۰۸ کال په ستمبر او دسمبر کې په افغانستان کې د ايساف او د امريکا د متحده ايالاتو د ځواکونو د قوماندان له خوا يې پر غير نظامي وګړو باندې د عملياتو د اغيزو د کمښت په موخه هدايت شوی وو. د ګڼو وړانديزونو سره چې په دغه تحقيقاتي راپور کې راغلي دي يوه مسله هم پر تاکتيکي دايرکتيفونو او دستورونو باندې بيا غور کول دي چې په کې ځانګړی لارښود د پلان شوو عمليات او هغو قطعاتو لپاره د نږدې څخه دهوايي ملاتړ په اړه دی چې د تماس او ځاني دفاع په حالاتو کې وي. دغه ډول لارښود بايد د موجودو او نوو قطعاتو دواړو لپاره وي.

۳۶. د ملکي کسانو په وړاندې خطر د ملکي کسانو په ګڼ ميشتو ځايونو کې د شديدو مهماتو د کارولو په واسطه تشديد شوی دي. دغه راز ملکي کسان هغه وخت د هوايي بريدونو تر خطر لاندې راځي کله چې نړيوال او افغان پوځي ځواکونه په لويو لارو کې يا په ملکی ساحو کې ترکمن لاندې راشي او هم کله چې ملکي کسان په اشتباه کې د حکومت ضد عناصرو په څير وپيژندل شي يا دغه عناصر د هغوي ترمنځ ننوتي وي او زياتره کله چې په موټرونو کې او يا په ډله ييزه ډول سفر کوي. د ملکي کسانو په وړاندې خطر په خاص ډول د شپې له خوا په عملياتو يا په يوه کلی کې د جګړې د عمومي وضيعت پرمهال يا په داسې ورته حالاتو کې چې د ملکي کسانو زيات شميرد کورنيو د عنعنوي جوړښت پر اساس د استوګنې په يوه کور کې پناه اخلي چې د ماشومانو او ښځو زيات شمير په کې پنډوي، جدي وي. د يادونې وړ ده چې دا نه يوازې د ملکی کسانو ژوند دی چې د هوايي بريدونو له امله په خطرکې لويږي، په دې ډول بريدونو کې د ملکي کسانو جايداد، جوړښت لکه کورونو، ښوونځيو او کلينيکونو ته هم د پام وړ زيان اوړي.

۳۷. د افغان وګړو په منځ کې د ملکي کسانو د تلفاتو د مخ پر زياتيدونکی شمير د رامنځ ته کيدو په هکله د هغو عملياتو په نتيجه کې چې د پي جي ايف له خوا ترسره کيږی، په خاص ډول د نړيوالې ټولنې او د نړيوالو پوځي ځواکونو د دوامداره شتون لپاره او په عمومي ډول د نړيوالې ټولنې ملاتړ د خطر په معرض کې اچوی، خپګان او غصه موجوده ده. د يو شمير زياتو پيښو په تعقيب، يو شمير لاريونونه شوی دي (که څه هم په خپل سر يا هماهنګ شوي) مثلا د ۲۰۰۹ کال د مۍ د مياشتې د څلورمې نيټې د بلا بلوک د پيښې په تعقيب لاريون. ولسمشر کرزی په يو شمير عامه بيانونو کې دا خبره روښانه کړې چې هوايي بريدونه ملکي تلفات رامنځ ته کوي، د افغانستان د حکومت موخې او د نړيوالو پوځي ځواکونو ملاتړ ته زيان رسوي.

۳۸. نړيوالو پوځي ځواکونو د يو شمير پام وړ اندېښنو د ځوابولو په موخه چې د دوي په باور د ملکي کسانو د تلفاتو په خاص ډول د هوايي بريدونو څخه د راولاړو شوو تلفاتو په برخه کې مرسته کوي، ځېنې نوښتونه لارې ته اچولې دي. لکه څنګه چې د مخه هم يادونه وشوه، په دې نوښتونو کې د ايساف او د ازادي د دوامداره عملياتو/ په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو ترمنځ د قوماندې د جوړښت زيات شفافيت او يوځای کول شامل دي. ايساف هم د ملکی کسانو د تلفاتو د معلومولو يو مرکزی

Formatted: Font: Not Bold

Formatted: Right-to-left

واحد (دا د ملکی کسانو د تلفاتو د ورته واحد له خوا په افغانستان کې د امریکایې ځواکونو په د ننه کې منعکس کیږي) چې موخه یې په هیواد کې د ایساف او امریکایې ځواکونو له خوا د ټولو ادعا شویو پیښو څیړل دی، جوړ کړی دی.

۳۹. دا د یادونې وړ ده چې د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر میاشت کې د ایساف لپاره او د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر په میاشت کې د امریکایې پوځي ځواکونو لپاره د قوی د ساتنې، هوایې بریدونو او د شپې له خوا د تلاشي ګانو په هکله روښانه تاکتیکي لارښودونه او (ټي ډی) صادر شول. د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر د روښانو او تعریف شویو ټي ډي تمرکز د نورو مسایلو ترڅنګ په هوایې بریدونو او د شپې له خوا د کورنو د تلاشي په هکله وه. د ایساف ټي ډي بیا د ۲۰۰۹ کال د جون په میاشت کې له سره نوی او د ۲۰۰۹ کال د جولای په دومه د ایساف او امریاکې دواړو پوځونو لپاره (USFOR-A)، بیا صادر شو چې مثبت ګام ولو او موخه یې د ملکي تلفاتو د کچې را کمول دی. د ۲۰۰۹ کال د جولای د میاشتې تاکتیکي لارښودونه د ایساف د عملیاتو په ملاتړ کې د قوي د کارولو په هکله لارښود او مرام برابروي، چې د هغه په وسیله د ځمکنې قومندانانو څخه تمه کیږي چې د قوي د محدودي کارونې له لارې د هوایې بریدونو په ګډون د ملکي کسانو د تلفاتو کچه چې کله ګڼ میشته ملکي سیمې تر هدف لاندې نیسي، راکښته کړي. که څه هم چې د دې اغیزې به د لیدو وړ وي، خو دا به په ځمکنې عملیاتو کې په خاص ډول د ځواکونو د منظم نوبت کولو په رڼا کې او همدارنګه د خاصو پیښو د مناسبې ارزونې په برخه کې چې کله هم د ا پیښې واقع شي د سرتیرو مناسبو روزنو ته ضرورت ولري، باید هڅه وشي چې دا نیمګړتیاوې مشخصي شي چې د ټی ډي او د عملي کولو په لاره کې موجودې وي شي څو وکولای شي دا کړنې په راتلونکو عملیاتو کې چې موخه یې د ملکي کسانو او ملکي کسانو د جوړښتنو د کچې راکمول دي، یو ځای شي.

۴۰. د ۲۰۰۸ کال د اګست د میاشتې د ۲۲ نېټې د شین ډنډ د پیښې نه وروسته، د ۲۰۰۸ کال د اګست د میاشتې راهیسې، نړیوالو پوځي ځواکونو د خاصو پیښو په هکله د لا زیاتو منظمو پلټنو په حواله زیات رضایت ښوولی. د دغو یوه بیلګه د ۲۰۰۹ کال د مې د میاشتې د بالا بلوک د پیښې په هکله د مرکزي اداري پلټنه ده. که څه هم چې د دا ډول پلټنو خپلواکي او روڼوالی لا هم د پوښتنې وړ دی. د آزادي د پایداره عملیاتو لاندې د ځواکونو د حساب ورکونې نه شتون په خاص ډول د یوناما لپاره د اندیښنې وړ خبره ده.

۴۱. د ۲۰۰۹ کال په اوږدو کې، د نړیوالو پوځي ځواکونو په خاص ډول ایساف له خوا څخه د خاصو پیښو په اړه او همدارنګه د ملکي کسانو د تلفاتو د تصدیق او د پیښو د تفصیل په اړه د مطبوعاتي بیانیو د خپریدو له لارې زیاته اراده ښکاره کړي. که څه هم په ځینو مواردو کې اندیښنې مطرح شوی چې په افغانستان کې امریکایې ځواکونو د مطبوعاتي بیانونو له لارې، د دولت ضد عناصرو د تاکتیکونو په حواله، لکه څنګه چې د ۲۰۰۹ کال د مې د میاشتې د بالا بلوک د هوایې بریدونو په تعقیب پیښنو شول، زیاتې ادعاوې کړې دي. داسې بیانونه وروسته ناسم ثابت شول، په خاص ډول هغه ادعا چې ګواکې یاغیان په عمدي توګه ملکي کسان د دې لپاره وژنې چې ددغو وژنو پړه په نړیوالو ځواکونو وتپي. په یوه وروستۍ څیړنه کې، امریکایې پوځ دا منلې چې هغوي د هوایې بریدونو د کارونې په حواله د متحده ایالاتو د پوځ داخلي معیارونه تر پښو لاندې کړي.

۴۲. د سمون او اصلاح سره سره، یو شمیر مسایل لا هم د اندیښنې وړ دي. په دې کې د نړیوالو پوځي ځواکونو د روڼوالی کچه او یوناما ته د معلوماتو د برابرولو په برخه کې د هغوي ظرفیت او رضایت شامل دی خاصتا کله چې د یوناما د بشري حقونو څانګه د قوماندې په محلي کچه د ملکي تلفاتو د مشخصو پیښو په اړه پلټنې کوي چې نسبت یې نړیوالو پوځی ځواکونو ته کیږي، دوي زیاتره وخت ضروري معلومات تر لاسه نه کړای شول څو د یوې مشخصو عملیاتو په اړه د قوماندې مسوولیت په ګوته کړي او نور ګټور معلومات تر لاهس کړي چې په مشخصو پیښو باندې زیاته رڼا چوي.

۴۳. یوناما بشري حقونه قربانیانو او د هغوي کورنیو ته د منل شویو معیارونو پر بنسټ د د سولاشیا د تادیاتو د ورکولو د ضرورت د څرګندولو په هکله ټینګار کوي چې باید مساوي او د لاس رسي وړ میکانیزمونه په کې شامل وي او تادیات باید په وخت سره اجرا شي. په اوس مهال کې د داسې تادیاتو لپاره په نظامي خدماتو کې ګډ بیلا بیل هیوادونه بیلې لارې لري. قربانیان او د دوي کورنۍ نه پوهیږي چیرته ولاړ شي او له چا سره ووینې څو د تاوان د جبران لپاره خپلې غوښتنې وړاندې کړي او د دوي لپاره نظامي اډو ته ورتګ ګران وي. د سولاتشا د تادیې اوسنی سیستم د دې باعث ګرځي چې دا کیدای شي د ملکي تلفاتو په اړه غلطې ادعاګانې وپاروي.

۴۴. یوناما او OHCHR د شخړو له امله د متاثره شویو ملکي کسانو مسلې مطرح کیدو ته دوام ورکوي. د جون د میاشتې په څلورمه، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر په پوځي شخړو کې د ملکي کسانو د وضیعت په اړه خپله سخته اندیښنه څرګنده کړې، او د هغو تلفاتو او همدارنګه د قربانیانو لپاره د عدالت او خسارې ورکولو په هکله د خپلواکو څیړنو د ترسره کیدو غوښتنه وکړه. یوناما د نړیوالو پوځی ځواکونو له خوا د ملکي کسانو د تلفاتو د مسلې د ځوابولو د هڅو هر کلی کړی. که څخه هم د تاکتیکي لارښوونو څخه د ډاډ پخاطر کوم چې په شخړو کې د ملکي کسانو د تلفاتو د راکمیدو او په ځمکنې عمیاتو کې د ښکیلو سرتیرو د مناسبو روزنو څخه د اطمینان په خاطر طرح شوی دی، زیات ضرورت لیدل کیږي. دا په

مساوی توګه د باور وړ ده چې نړیوالو پوځي ځواکونو داسې سیستمونو رامنځ ته کړي چې د ادعا شویو ملکي تلفاتو د پېښو د څېړنو او نظارت لپاره شفاف او ازاد سیستمونه ولري. په هره هغه پېښه کې چې ملکی تلفات وي باید د یوې خپلواکې څېړنې له لارې وارزول شي او تر لاسه شوی راوړنې په راتلونکو فعالیتونو کې ځای شي. د دې سربیره، دا ضروري ده هغه کسان څوک چې د نړیوالې بشرپالنې قانون، نافذه حکمونه او تاکتیکی لارښوونې ماتې کړي باید مسوول وګڼل شي. ټول راتلونکی فعالیتونه باید د هغوي د پوځي عملیاتو د ترسره کولو په وخت کې دا ډاډ حاصل کړی چې د ملکي کسانو په هکله خطرونه او د هغوي تاثرات را کم کړي.

**لومړۍ ضمیمه**

د ملکی تلفاتو په اړه د معلوماتو د راغونډولو او تحلیل لپاره د یوناما د بشري حقونو د میتودولوژي لنډیز

د ملکي تلفاتو راغونډ شوی ارقام د یوناما د بشري حقونو د کارکوونکو غړو د څیړنو او راپورونو په ترڅ کې تر لاسه شوی چې د OHCHR او د امنیت شورا ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) نظارتي ماموریت سره په سمون کې واقع دی. د یوناما بشري حقونه د ملکي تلفاتو د ټولو راپورونو څیړنه کوم چې د پوځي شخړو څخه راپورته کیږي، ترسره کوي. مهمه نه ده چې کومه ډله، نهاد یا چارواکي یې مسوول دي.

د یوناما بشري حقونه د زیاتو سرچینو او ممکنه اطلاعاتو د بنو د کارولو له لارې د ملکي تلفاتو د راپورونو څیړنه کوي. هغه ټولې سرچینې او اطلاعات چې هغوي یې تهیه کوي، د باوري توب او اعتبار په موخه تحلیل کیږي. د خاصو پیښو د تحلیل او څیړنو د ترسره کولو په موخه، د یوناما بشري حقونه ټول اطلاعات د یو شمیر زیاتو سرچینو څخه په ممکمنه توګه تایید او بررسي کوي. مثلا د عیني شاهدانو او په مستقیمه توګه د متاثره شویو کسانو شهادت، پوځي فعالین (د حکومتي او نړیوالو فعالینو په شمول)، ځایي کلیوال، د ولسوالیو او ولایتونو چارواکي، مذهبي او د ټولنو مشران، د سیمو څخه مستقیم لیدنې، عکسونه، فلمي شواهد، د روغتونونو او طبی مرکزونو څخه لیدنه، د دومي درجې شواهد، د ډله ییزه رسنیو راپورونه، د ملګرو ملتونو، نا دولتی انجوګانو او داسې نورو ارګانونو له خوا راټول شوی معلومات شامل دي.

په کوم ځای کې چې ممکن وي، د څیړنو بنسټ د قربانیانو او یا د څیړنو د ځای او پیښې د شاهد د لومړنیو شواهدو پر اساس وي. په ځینو مواردو کې، په بنیادي توګه د امنیتي وضیعت د محدودیتونو له امله د تحقیقاتو دغه کچه سر ته نه رسیږي. په داسې مواردو کې، د یوناما بشري حقونه د اتبار لرونکو سرچینو او په ممکنه توګه د یو شمیر سرچینو په کارولو، تکیه کوي. لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه ټول راپورونه د اتبار او باوري کیدو په موخه ارزول کیږي.

په کوم ځای کې چې د یوناما بشري حقونه د یوې خاصې پیښې په اړه د شواهدو په هکله باوری نه وي، نو د پیښې د ثبت او راپور ورکولو څخه لاس په سر کیږي. په ځینو مواردو کې، د پایلو د تر لاسه کولو څخه وړاندې ښایي څیړنې څو اونۍ وخت ونیسي. دا ښایي په دې مانا وي چې د ملکي تلفاتو پایلې کوم چې د خاصو پیښو څخه رامنځ ته کیږي څه نا څه بدلون ومومي ځکه چې د وخت په تیریدو سره نور معلومات هم تر لاسه کیدای شي. چیرې چې اطلاعات نامعلوم وي، بیا ښایي پایلې تر هغه چې د قناعت وړ اطلاعات نه وي تر لاسه شوی، اعلان نه شي او یا کیدای شي د پایلو د تر لاسه کولو څخه پرته دوسیه وتړل شي او بیا نور به احصایوي راپورونو کې ځای نه ورکول کیږي.

د یادونې وړ ده چی په ځینو پیښو کې د قربانۍ راپورشوی غیر رزمي موقف د اختلاف وړ وي. په داسې قضیو کې یوناما د نړیوالې بشرپالنې د نافذه قانون تر لارښوونې لاندې عمل کوي، او د جنګ د عمر نارینه بې له غوره په اوماتیک ډول د ملکي کسانو به نظر نه وینې. داسې ادعاوې د ځانګړو حقایقو چې د سوال لاندې پیښې د موجودیت په هکله وي ارزول کیږي. په دې ډول، که چیرې د یوه یا زیاتو قربانیانو غیر رزمی موقف تر شک لاندې راځي، داسې مړینې د ملکي کسانو په ټولیز شمیر کې نه شاملیږي. په دې توګه، څرګند امکان موجود دی چې یوناما د ملکي تلفاتو شمیر کم ښیې.

## د لغاتو قاموس/ډيکشنرى (ګلاسوري)

دا لاندني اصطلاحات او مخففات په دې اطلاعاتي نشريه کې کارول شوي دي:

**ABP:** افغان سرحدي پوليس
**AGE:** دولت ضد عناصر. هغه ټول انفرادي کسان او ډلې دي چې اوس مهال د افغانستان د حکومت او نړيوالو پوځي ځواکونو پر وړاندې په پوځي شخړو کې ښکيل دي. په دې کې هغه کسان چې ځان ته طالبان وايي او همدارنګه هغه انفرادي کسان او ډلې چې د يو شمير موخو په واسطه تحريک شوی او يو شمير نښې يې غوره کړې، شامل دي.
**ANA:** افغان ملی اردو
**ANP:** افغان ملي پوليس
**ANSF:** افغان ملي امنيتي ځواکونه. د افغان سرحدي، افغان ملي پوځ، افغان ملي پوليسو او ملي امنيت د رياست لپاره پراخه اصطلاح ده.
**ASP:** افغان ځانګړی ځواکونه: دا د افغان ملي پوځ برخه ده چې زياتره د افغان ملي پوځ د کوماندو په نوم يادېږي، په ځينو مواردو کې، او جی ای (لاندې مراجعه وکړئ) اربکی ته په غير رسمي توګه د ای ايس ايف په حيث ارجاع کيږي.
**BBIED:**
**تلفات:** ښايي دوه ډوله وي:

- **مستقيم:** هغه تلفات چې په مستقيم ډول د پوځي شخړو څخه راپورته کيږي او د هغو پوځي عملياتو په شمول چې د حکومت پلوه (د افغان او نړيوالو پوځي ځواکونو) لکه د قوي د ساتنې د پيښو، هوايي بريدونو، تلاشيو، د نيولو پيښو او د ياغيتوب په وړاندې ترسره کيږي، شاملې دي. په دې کې هغه تلفات هم شامل دی چې د حکومت ضد عناصرو د فعالتيونو لکه عمدي وژنې، VBIED, IED او BBIED او يا د حکومت پلوه ځواکونو سره په مخامخ جګړه کې رامنځ ته کيږي.
- **نور:** دا ډول تلفات په غير مستقيم ډول د شخړو څخه او د جګړې څخه د پاتې ناچاودو توکو، په بندې خانو کې د مړينو، د طبي پيښيدونکو حالاتو څخه د مړنيې له امله چې د پوځي عملياتو پر مهال واقع کيږي يا چيرې چې د طبی پاملرنې د لاس رسي څخه مخنيوی کيږي واقع کيږي. په دې کې همدارنګه هغه مړينې شاملې دي چې په روښانه توګه د مسووليت د نه تعيين کيدو له امله واقع کيږي. په پای کې، په دې کې هغه تلفات هم شامل دي چې د قومونو او يا نژادي شخړو له امله رامنځ ته کيږي.

**ملکي/ غير نظامي:** هر څوک چې په دښمنيو کې فعاله ونډه نه اخلي. په دې کې ټول ملکي کسان همدارنګه عامه کارکوونکي کوم چې د پوځي موخو لپاره په شخړه کې نه کارول کيږي، ښوونکي، روغتيايي کارکوونکي او هغه کسان چې د عامه خدمتونو په ترسره کولو کې ښکيل دي، او همدارنګه سياسي او د دفترونو کارکوونکي احتوا کوي، شامل دي. په دې کې همدارنګه هغه سرتيری يا هر بل څوک چې د جګړې د ميدان څخه د ټپی کيدو يا د تسليميدو يا هم د هر بل لامل له مخې په شخړو کې د فعالی برخې اخيستنې د پايته رسولو له امله وتلی وي، شامل دی. به دې کې ښايي هغه کسان شامل وي چې ملکي پوليس پرسونل يا د پوځ غړی وي چې د ياغيتوب ضد عملياتو کې د هغوي څخه کار نه اخيستل کيږي.
**ماشومان:** د ماشوم د حقونو په هکله د ميثاق مطابق، يو ماشوم د هر بل کس په حيث چې د ۱۸ کلونو څخه ټيټ وي، تعريف شوی، (له ۵- ۱۷ کلونو په شمول). د ماشومانو لپاره د ټپي توب ارقام احتمالا د دې لپاره نه راپوريږي چې د ټپي کسانو لپاره د عمر معلومات زياتره موجود نه وي يا نه ثبت کيږي.
**COM-ISAF**: د افغانستان د امريکايي ځواکونو او ايساف قوماندان، ايساف ته مراجعه وکړئ.
**د قوی د ساتنې پيښې:** په داسې وضيعتونو کې چيرې چې ملکي کسان د پوځي کارکوونکو له اړخه د خبرتياوو د نه په پام کې نيولو سره او يا کله چې پوځي کاروانونو ته نږدې کيږي او يا د هغوي څخه وړاندې کيږي او د تلاشي په پوستو کې د لارښودوو د نه په پام کې نيولو په برخه کې پاتې راځي. کيدای شي د قوی د ساتنې پيښې هغه وخت هم رامنځ ته شي چې کله انفرادي کسان پوځي اډو يا تاسيساتو ته ډير زيات نږدې شي او د پوځي کارکوونکو له اړخه د خبرتياوو د ورکولو او تعقيب په برخه کې پاتې راشي.
**GoA**: د افغانستان حکومت
**د بشرپالنې فضا:** د بشرپالنې د فضا اصطلاح د بې سرحده ډاکټرانو د پخوانی مشر رونی برومن له خوا چا چې دا اصطلاح د ۱۹۹۰ لسزيزې په نيمايې کې د ازادی د يوه فرصت په حيث چيرې چې موږ وکولای شو اړتياوې و ارزو، په ازاده توګه د ويش او امدادي توکو د کارولو په هکله نظارت وکړو، او وکولای شو په آزاده توګه د خلکو سره خبرې اترې وکړو، په غتو او

روښانه ټکو تشریح کړی، وکارول شوه. د بشرپالنې د چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر د بشرپالنې (اوچا) د عبارت فهرست د بشرپالنې د اصطلاح لپاره کومه خاص وارده نه لري، خو دا د بشرپالنې د عمل کولو د چاپېریال لپاره د مترادیفې کلمې یادونه کوي. دا د بشر پالنې د نمایندګیو او سازمانونو لپاره کله چې هغوي د بشرپالنې د عمل کولو د یوه مساعد چاپیریال ساتنه کوي، خپل ماموریت اوږدوي، یو کلیدي عنصر دی. دا فهرست داسې بیان ورکوي: "... د بشرپلانې په عملیاتو کې د بې طرفي د کلیدي عمل کولو د اصولو څخه پیروي هغه حیاتی وسیلې وړاندې کوي په کوم چې د ډاډ اصلي موخه او هدف یې د رنځ او عذاب له منځه وړل دی، تر لاسه شي. په نتیجه کې د پوځي دندو او نقش څخه د بشري فعالینو د دندو او نقش ترمنځ د یوه روښانه توپیر راوستل د عملیاتو د یوه چاپیریال د جوړولو لپاره یوه تعیین کوونکی فکتور دی او د بشرپالنې سازمانونه کولای شي خپل مسوولیت په اغیزناکه او خوندي توګه ترسره کړي." د اوچا د سوله ساتې عملیاتو د ریاست (ډپکو) د موسسینو راپور د یو ځای شویو ماموریتونو په اړه په ۲۰۰۵ کې خپور شو او په دې کی همدارنګه د بشرپالنې د فضا د ساتلو د اړتیا پر سر ټینګار شوی او د ملکي کسانو او پوځی دندو ترمنځ په توپیر باندې هم تمرکز کړی. د بشرپالنې فضا همدارنګه د ملکي کسانو لپاره د ژوند ژغورلو او ژند ساتلو د مرستو په اړه مفکوره احتوا کوي.

**IED:** اصلاح شوي نا چاوده توکي. یو بم چې د غیر اتومی پوځی عمل څخه پرته جوړ او ځای پر ځای شي. اصلاح شوی نا چاودي توکي کیدای شي د ځانمرګي بمونو لکه VBIED او BBIED او داسې نورو ډولونو په بڼه کې وي.

**IMF:** د نړیوالو پوځي ځواکونو په تشکیل کې هغه ټول بهرني سرتیری چې د ایساف او افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د ځواکونو (او ای پی په شمول) څوک چې د ایساف د قومندان (COM-ISAF) تر قوماندې لاندې دی، شامل دي.

**ټپونه:** په دې کې د بیلا بیل جدیت فزیکی ټپونه شامل دي. د ټپونود شدت کچه د یوناما د بشري حقونو په ډیټابیس کې نه دی ثبت شوی. په ټپونو کې د ټکان او روانی ټکان دوسیې نه دي شاملې.

**ایساف:** په افغانستان کې نړیوال سوله ساتې ځواکونه. ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII څپرکی لاندې د سولې د ټینګښت ماموریت لري. که څخه هم چې دا د ملګرو ملتونو ځواک نه دی خو د "رضا کاري یو ایتلاف دی" چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د واک او صلاحیت لاندې ځای په ځای شوی دي. د ۲۰۰۳ کال په اګست میاشت کې د ملګرو ملتونو او د افغانستان د اسلامي دولت په غوښتنه ناټو د ایساف قومانده په غاړه واخیسته. د ناټو ځواک به اوس حال کې د نږدې ۴۲ هیوادونو د ۶۱،۱۳۰۰ ځواکونو څخه (ټول ۲۸ ناټو هیوادونو په شمول) او همدارنګه ۲۶ ولایتي بیا رغونې له ټیمونو څخه ترکیب شوی دی. د ۲۰۰۸ کال د نومبر د میاشتې راهیسې د ایساف قوماندان د افغانستان د امریکایې ځواکونو د قوماندان په حیث دنده اجرا کوي، خو که څه هم چې د قوماندی کړی بیلې دي.

**ناټو:** د شمال اتلانتیک سازمان. ایساف ته د ناټو سازمان غړي هیوادونه د سرتیرو د ګمارلو اصلي ورکونکي هیوادونه دي، ایساف ته مراجعه وکړئ.

**OEF:** د آزادی دوامداره عملیات. د آزادي دوامداره عملیاتو اصطلاح د امریکایي حکومت له خوا په افغانستان کې د جګړې په وړاندې د خپلې برخې اخیستنې لپاره په رسمی توګه وکاروله. د یادونې وړ ده چې د آزادي دوامداره عملیات د امریکا او افغانستان ګډ عملیات دی او دا عملیات د ایساف د عملیاتو څخه کوم چې د ناټو هیوادونو، د امریکا او نورو سرتیری ورکوونکو هیوادونو په شمول دی، بیل دی. زیاتره امریکایی ځواکونه چې د آزادي د دوامداره عملیاتو لاندې د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر د میاشتې راهیسې عملیات ترسره کوي د افغانستان د امریکایې ځواکونو سره یو ځای شوی (لاندې مراجعه وکړئ) چې د جنرال مک کرستل د قوماندی لاندې کار کوي چې په عین حال کې د ایساف قومندان هم دی، ځینې خاص ځواکونه بیا تر بلې جدا قوماندې لاندې هم کار کوي.

**حکومت پلوه عناصر(PGF ):**

- **د افغانستان د حکومت ځواکونه.** هغه ټول ځواکونه چې په ټولو پوځي یا ملیشایې ضد یاغیتوب عملیاتو کې عمل کوي او په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د افغانستان د حکومت تر کنترول لاندې دي، دی. په دې ځواکونو کې افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیس، افغان سرحدي پولیس، ملي امنیت ریاست شامل دي، خو دا تر دې ځواکونو پورې محدوده نه دي.
- **نړیوال پوځي ځواکونه (IMF)** او OGA

**پي آر ټي:** ولایتي بیا رغونې ټیمونه. دا د ملکی او پوځی پرسونل ټیمونه دي چې د ایساف د سیمه ییزې قوماندې په چوکاټ کې د هیواد په ولایتونو کې د بیا رغونې لپاره کار کوي. د هغوی دنده د ځایې چارواکو سره د بیا رغونې او د سیمې د امنیت د چارو په ساتلو کې مرسته کول دي.

**UNDSS:** د ملګرو ملتونو د خوندیتوب او امنیت ریاست

**د افغانستان امریکایې ځواکونه:** یا "USFOR-A" دا په افغانستان کې د امریکایې ځواکونو لپاره د وظیفوي قوماندې او کنترول مرکز دی. د افغانستان امریکایې ځواکونو قومانده د جنرال مک کرستل څوک چې په عین حال کې د ناټو/ایساف قوماندان هم دی، په غاړه ده. د دغه نوی ترکیب لاندې چې د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر په میاشت کې رامنځ ته شو، امریکایې ځواکونه چې د ازادي د دوامداره عملیاتو د یوې برخې په حیث کار کوي، د "USFOR-A" د عملیاتي کنترول لاندې راغلل. د ایساف او OEF د قوماندې کړی بیلې او واضح دی او د متحده ایلاتو مرکزی قومانده د متحده ایالاتو د تروریزم ضد او توقیف شویو کسانو عملیاتو ته دوام ورکوي.

**VBIED:VBIED** : په وسیله کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي